# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم  از آن به که کشور به دشمن دهيم

afgazad@gmail.com  www.afgazad.com

| سياسی | Political |
|---|---|


پيشرو خپرونه، ۴۲ گڼه

۰۷ مارچ ۲۰۱۲

## افغانستان، د بردګانو هيواد

افغانستان څه باندې لس کاله وړاندې د «بشري حقونو د اتلانو» لخوا تر تيري لاندې راغی. له دې تيري سره جوخت د «دموکراسی» خونړی منګولې زموږ د ولسونو پر بدن ښخې شوې او پوره لس کاله کيږي چې له وژنې، بردګۍ، سپکاوي، اسارت، ځورونې او شکنجې پرته په دې ټاټوبي کې بل څه نه تر سترګو کيږي.

ماشومان د دې تيري او «بشري حقونو» لومړني قربانيان دي چې په ډيرې بيرحمی يا وژل کيږي، يا هم له لوږې او يخنۍ مري او يا هم د بردګانو په شان د زبيناک ګرو په کارخانو او بټيو کې کار کوي؛ اوسنې مِتيازن امريکايي سرتيري يې په بمباريو او ډله ايزو وژنو کې په قتل رسوي، طالبان ورته د انتحار واسکټ وراغوندي، جګړه ماران وربادې جنسي تيری کوي او جنايت سالاره مافيايي واکمنې ډلې يې اختطافوي؛ د بيوزلۍ او فقر له امله په يخنۍ کې مري. په ټول هيواد کې دا مهال نږدې يو نيم ميليون ماشومان د «کار» هغه بردګان دي چې په وحشيانه او بيرحمانه ډول تر ستم او ظلم لاندې ژوند کوي. يوازې په کابل کې ۵۰ زره ماشومان د بردګانو په څير د خښتو په بټيو کې د لوټمارو په لاسونو کې ښکيل دي او په داسې ناتار او بلوس کې ژوند تيروي چې د بهرنيو ټوپکوالو په پراخه شتون او د ميلياردونو ډالرو په لګښت سره، هغه د شرم او خجالت توره رټه ده چې د دې نيواک ګرو د تيري منځپانګه په ښه ډول بربنډوي. د دې بټيو کوچني کارګران چې اکثره يې له پنځه کلونو ډير عمر نلري، سهار وختي متې رانغاړي او د ماښام تر تورتم پورې خوله تويوي، کار کوي، ښکنځلې اوري او سپکاوی ورته کيږي.

د دې ماشومانو د ژوند او کار وضعيت دومره دردناک او له ناورين څخه ډک دی چې ان د فريدريش ايبرټ ټولنې رئيس فرانک هنتک هغه د «نړيوالې ټولنې» او د دې ټولنې دوست دولت ته د شرم وړ بللی دی. هغه وايي: «يوازې د پلازمينې په شل کيلومتری کې چې هلته زرګونه تنه ملي او نړيوال کسان د «بشري حقونو د دفاع» لپاره کار کوي، د شرم ځای دی چې څه باندې ۵۰ زره ماشومان د خښتو په بټيو کې د اسارت او مرييتوب لاندې دي او شاقه کارونه تر سره کوي.» د فرانک دا وينا په ښکله څرګندوي چې د ټولو هغو بنسټونو، ټولنو او انجوګانو مشران او چلوونکي چې د «بشري حقونو» او د ماشومانو په نامه «د انساني مرستو» په بازار کې ګرم نڅيري او

ګډېږي، ټول هغه دروغجن او زموږ د زیارکښانو تیرایستونکي انسانان دي چې د خواري کښو او بیوزلو انسانانو په لوټ او تالان کي له «نړیوالي ټولني» سره مل او ملګري دي او له همدې امله د دې «ټولنې» منندوی دي.
هغه راپور چې د فریدریش ایبرټ ټولني خپور کړی، جوتوي چې په کابل او جلال آباد کي د بټیو ۶۵ سلنه کارګران ماشومان دي چې په کي ۵۸ سلنه هلکان او ۲۲ سلنه نور یې نجوني دي. دا کوچني کارګران په اونۍ کې ۷۰ ساعته کار کوي، په داسې حال کې چې د «کار قانون» (چې د پانګوالو او شتمنو په ګټه جوړ شوی) له مخې په اونۍ کې د کار ساعتونو حداکثر ۴۸ ټاکل شوي دي. دا په خپله ښکاره کوي چې د افغانستان اوسني قوانین د زیارکښانو او په ځانګړي توګه د کارګرانو په ګټه نه دي، ځکه کومه اجراییوي بنه نلري او درلودلی یې هم نشي.
دا کوچني کارګران په داسې حال کې د مړییانو او بردګانو په شان پانګوالو ته (چې د «نړیوالي ټولنې» وسله وال ملاتړ له ځان سره لري) کار کوي چې زرګونه نور ماشومان یا له لوږې یا له یخنۍ او یا هم له ناروغۍ مري. د ماشومان د ملاتړ دفتر، وروستی نړیوال راپور څرګندوي چې افغان ماشومان د نړۍ پرتله د ژوندي پاتې کیدو تر ټولو خراب فرصت لري او هره ورځ ۲۶۵ ماشومان چې عمرونه یې له پنځه کلونو کم دي، د هغو ناروغیو له امله مري چې د وقایې وړ دي. په دې کې د کوچنیانو ۲۱ سلنه مړینه د سینه بغل او ۱۴ سلنه یې د اسهالاتو له امله ښکاره شوې او زیاته شوې چې په سلو کې ۵۹ ماشومان له شدیدي خوارځواکۍ سره مخامخ دي.
دا شمیرې ښکاره کوي چې ارتجاعي جګړه او هغه هم ښکیلاکي جګړه هیڅکله نشي کولای ولسونو او زیارکښانو ته هوساینه، آزادي او برابري ورکړي. په تیرو لسو کلونو کې امریکا او ۴۸ نورو هیوادونو د بدمرغۍ، رنځونو، کړاونو، خوارځواکۍ، قتل، وژنې، اسارت، مړیتوب، جاسوس پالنې، نوکرۍ او ښکیلاکمینې پرته دې ماشومانو او په ټولیزه توګه افغان ولس ته څه نه دي ورکړي او د «بشري حقونو اتلانو» دا هیواد د بردګانو په هیواد بدل کړی دی. بردګي یوازې هغه وخت له منځه ځي چې ولسونه په خپله د خپل برخلیک د ټاکلو لپاره راپورته شي او د خپلواکۍ په اډانه کې د داسې ټولنې لپاره مبارزه وکړي چې هلته نور انسانان په بیوزلي او شتمن ونه ویشل شي او ټول انسانان له یوه بل سره په برابرۍ کې ژوند وکړي.